۲۶ ستمبر د ولي محمد طوفان د وفات ورځ ده په دغه مناسبت "پښتون" خپلو لوستونکو ته د هغهٔ مشهور نظم "پښتونخوا" د هغهٔ د سپېڅلي ياد سره وړاندې کوي.

## پښتونخوا

**ولي محمد طوفان**

ئې وطن د ناموس، د غيرت د حيا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

ستا د کاڼو نه ځار بدخشان ئې زمونږ
له ذرو دې لوګے کهکشان ئې زمونږ
مونږ يو ستا بلبلان تهٔ بوستان ئې زمونږ
سر چينې د ښائست، آئينې د ښکلا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

هر يو سيند دې کوثر، هر يو غر دې يو طور
هر بوډا دې زمرے، هر ځلمے دې باتور
ستا په پټ او په ننګ هر بچے دې منصور
اے زمونږه ځانګو د ژوندون د بقا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

د غرهٔ کاڼي دې خدائيګو يمن لتهوي
تل غبار دې سوسے د خُتن لتهوي
طاؤسان دې وزره زغن لتهوي
هر يو زاغ دې شاهين توريالے دې هما
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

سر درو کښې دې سوال کړي غليم د امان
هر ګړنګ دې مزار ګڼي تل دښمنان
ځي په تېښته له تا د يرغل په اسمان
هر بابر په فرياد هر اورنګ په ژړا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

هر اغزے دې منګل د خوشحال کښې دے شل
هره تېږه دې لاس کښې خنجر د ايمل
د شوکمارو د پاره هر باغ دې مقتل
هر تکل دې جهاد هر عمل دې غزا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

ګڼه ناتار پرې سحر کړه تياري شاته ځي
د درنې توري شپې قافلې شاته ځي
د ژوندون په يرغل اديرې شاته ځي
مخ په وړاندې روان يو په لار د رڼا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

په اسلام يو مئېن دين اسلام دے زمونږ
د يثرب د ساقي لاس کښې جام دے زمونږ
پوخ ايمان د الله په کلام دے زمونږ
د قرآن دے هر تورے زمونږ سپين سبا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

کړئ خورو پښتنو خپل مرام اتحاد
د زړو پلرګنو مو پېغام اتحاد
په دنيا غوره بويه د قام اتحاد
کله پائي چې قام کړي يووالي ته شا
پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا ، پښتونخوا

## سعدالله جان برق

بیا ورکړه ویر دے – بیا پکښې ماتم دے
دا د مېړې خونه ده- بیا ورکړه غم دے

بیا مېندې بورېږي، بیا ښځې کونډېږي
ځوک بې وروره کېږي، ځوک بې پلاره کېږي
ځوک یتیمان کېږي، ځوک یسیران کېږي
بیا غوټۍ شوکېږي، پاڼې پاڼې کېږي

بیا مو جنت وران شو، جوړ ترې جهنم دے
دا د مېړې خونه ده- بیا ورکړه غم دے

بیا ایلۍ ویشتلې شي، بیا زرکې نیولې شي
بیا هوسۍ وژلې شي، سوئې ګېرولې شي
بیا فاختې نیولې شي، وینو کښې لړلې شي
بزې حلالولې شي، ګډې خرڅولې شي

ځُلې په وینو سرې دي، سور د سترګو نم دے
دا د مېړې خونه ده- بیا پکښې ماتم دے

بیا سکیني ژاړي، ترور نه تپوسونه کړي
تروري دغه ځوک دي، مونږ باندې ظلمونه کړي
مونږه څهٔ ګناه کړې، ځوک دغه جنګونه کړي
پلار مې چرته لاړلو، ورور مې څهٔ کارونه کړي

ترور به ورته څهٔ وائي، ولې دا ستم دے
دا د مېړې خونه ده- بیا پکښې ماتم دے

ټولې شمعې مړې شولې، هر طرف تیارې شولې
ماتې ټولې ځُلې شولې، ټولې سترګې سرې شولې
ډېرې ژبې پرې شولې، بیا مو ورځې شپې شولې
بیا زمکې مېرې شولې، لوېې ادیرې شولې

ګوتې په ژړا شولې ویر باندې قلم دے
دا د مېړې خونه ده- بیا پکښې ماتم دے

## صاحب شاه صابر

د پرهر ژبه مې هغسې ګویا ده
خو د زړهٔ درزا مې سترې ده ساه ساه ده
د مئینو زړونه مهٔ ماتوئ خلقه
په دې ښار کې دغه لړه شان رڼا ده
ما د مینې دنیا ومونده غني شوم
خلقو وې چې په دنیا کښې خو دنیا ده
چې د زړونو آئینې پکښې زنګ اخلي
یره! دا لا څنګه ښار څنګه هوا ده
د رقیب په خُلهٔ کې څنګ ښکلے تاثیر دے
هر څوک وائي چې مئینو ته ګناه ده
چې په خپلو کښې پښتو وئیلے نهٔ شو
په دې څهٔ که پښتانهٔ یُو، پښتونخوا ده
ما په دې دنیا کښې مهٔ چېړه ناصحه
هغه بله دنیا ستا صحیح چې ستا ده
د قیامته هر سړے داسې ویرېږي
لکه هر سړي چې کړې څهٔ ګناه ده
د خودۍ نشه ئې ماته شوه په سر کښې
د صابر د خودسرۍ دغه سزا ده

## سعدالله میوند

زما د ګل بدن عدن بدن خبرې کوي
هره ادا ئې د ښکلا د فن خبرې کوي
له هر بانهٔ نه ئې را اوري پلوشې د جمال
مړاوي کاته ئې د خالي دیدن خبرې کوي
لکه د وچ کالبوت جمود او سکوت کله مني
ښکلا خو روح ده روح خو تل په تن خبرې کوي
شهید ئې بولئ مړ ئې مهٔ بولئ جانان د وطن
د وینو څاڅکي ئې په سپین کفن خبرې کوي
پښتو غزل پښتو ټپې په لر وبر کښې خورې
د خیبرې او میوندې وطن خبرې کوي

## نصیحت

(د ماشومانو دپاره نظم)

واحد یوسفزے

چرې یو ځائے نۀ شئ ګلونو غافلانو سره
همیش یو ځائے اوسئ ګلونو باتورانو سره

بس اتفاق پکار دے مینه محبت پکار دے
مونږ ته دعا د مور او پلار مونږ له همت پکار دے
نۀ مونږ نفرت پېژنو نۀ مونږ له نفرت پکار دے

چې مو تاریخ غېږه کښې ځائے کړي د نرانو سره
همېش یو ځائے اوسئ ګلونو باتورانو سره

مونږه په تاسو کښې جذبې ببدارول غواړو
دا د نفرت دیوال خو مونږ رانړول غواړو
مونږ خو د قام بچي ګلونو یوکول غواړو

بیا هره ورځ به خوشحالي کړو د یارانو سره
همېش یو ځائے اوسئ ګلونو باتورانو سره

مونږه د وخت سرې خورو ته به خپل زور ښایو
مونږ به د دوي د ظلم جام دوي ته نسکور ښایو
مونږ به غمازو ته د خپل یووالي کور ښایو

خو بس احساس پکار دے مونږه هلکانو سره
همېش یو ځائے اوسئ ګلونو باتورانو سره

واحده یو موټے کېدل غواړو په دې وطن کښې
تخم د مینې مونږ کرل غواړو په دې وطن کښې
مونږه لړې لړې کېدل غواړو په دې وطن کښې

مونږ به سیالي کوو ملګرو، غمازانو سره
همېش یو ځائے اوسئ ګلونو باتورانو سره

افتاب بدر

د ناتوانه زړګي زور دے
خو غزل مې پرې سمسور دے

ځۀ به اخلم دا مې هېر شو
په بازار کښې دومره شور دے

اباد کور به مې برباد وي
چې دښمن مې سکه ورور دے

د ګلونو په روزګار کښې
ما ګټلے دولت نور دے

چې سبا به ځۀ پېښېږي
دا یو سوال مې په سر سور دے

عقله! کوم طرف ته لاړ شم
چې تنګ شوے په ما کور دے

د افتاب دُکان هم بند شۀ
د ماښام ځادر پرې خور دے

نور الاسلام سنګر

ثوک به خپل کور ته هر سحر ماښام په ویره راځي
په ټولو لارو د مرګ بوي له مازیګره راځي
خپل پرهرونه ستا د زلفو په تارونو ګنډم
چې خوشبویي مې ستا د یاد له هر پرهره راځي
د آئینې غوندې مو ژوند دے څوک مو نۀ شي زغمے
چې مو په زړۀ ځۀ وي په خُلۀ هغه خبره راځي
سپینې خېمې له لرې ښکاري د ژوندو مقبره
خالي لاسونه قافلې ورته له بره راځي
پس له ماښامه وتے نۀ شي څوک له کوره بهر
د شپې مو کلي ته بلا یو سربېره راځي
دا به خرڅ کړے په دښمن وي د خپل سر په بدل
د جنګ مېدان نه کوم سالار چې بې لښکره راځي

## جنګ پکار دے

نور الامین یوسفزے

جنګ پکار دے، جنګ پکار دے، جنګ پکار دے
جنګ پکار دے جهالت سره ملګرو
جنګ پکار دے شر شدت سره ملګرو
جنګ پکار دے بد نیت سره ملګرو
جنګ پکار دے د وحشت سره ملګرو
جنګ پکار دے د غربت سره ملګرو

د وختونو د جرس دغه ناره ده
د حالاتو رانه دغه تقاضا ده

په جذبه به د جهاد پاڅېدل غواړي
د قلم څوکه به ښه تېرول غواړي
زوړ ټوپک به له اوږې کوزول غواړي
د تیارې کومي ته لاس به اوړل غواړي
اورکي به د رڼا بلول غواړي
د وخت خېټه به په زوره څېرل غواړي
سباوون به ئې له تن زېږول غواړي
آګهي به په جهان خورول غواړي
سپین بېرغ به په وطن رپول غواړي
د همت مشال به پورته نیول غواړي
په طوفان کښې به کونجۍ ورکول غواړي
په اورونو به اوبۀ اچول غواړي
دا لمبې به په حکمت سړول غواړي
ځکه وایمه ملګرو ښۀ په جار
دا خبره زما واورئ په قلار
جنګ پکار دے

جنګ پکار دے بد نیت سره ملګرو
جنګ پکار دے د وحشت سره ملګرو
جنګ پکار دے د غربت سره ملګرو
د وختونو د جرس دغه ناره ده
د حالاتو رانه دغه تقاضا ده

دا نظم ظاهره خټک ته د سوات یوې ماشوم راستولے ؤ، پښتون ئې د هغوي په مننه چاپوي.

اې د دنیا او اخرت مالکه
اې د لوئے شان او د عزت مالکه

دغه یو سوال په عاجزۍ کومه
زما د سوات په ښکلا اور ولګېد

د هر طرف نه په هر لور ولګېد
چا چې بل کړے مړ کولے نۀ شي

لاړې د علم خزانې ورانې شوې
د ماشومانو مدرسې ورانې شوې

هغې ګلونو څۀ ګناه کړې وه
د فضا ګټ زنګوټۍ زنګ ونیوې

د شنهامونو لارې جنګ ونیوې
د سیند رڼې اوبۀ سُرچکي شولې

د مینګورې ښکلے ښار تباه شو
لوئے او وړوکے کاروبار تباه شو

خدایه ویرېږم چرته قحط رانۀ شي
ډېر پرده دارې خو سرتورې شولې

چې په خپل شتۀ کور کښې بې کوره شولې
ویرې اخستې دي پناه لټوي

د توتکرکو اوازونه ورک شول
او د چنچڼو چغار چرته لاړو

تش په هوا کښې چور لکونه ګرځي
د ځنګل شنۀ په کښې تورچکي شول